نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۰۵/۱۱

# د اسلامي حزب او ګډ حکومت ناکام مذاکرات

طالبانو لاهم کابل نه و نیولی، په پېښور کې د طالبانو او د هغه وخت هم اهنګي شورا (اسلامي حزب، د استاد مزاري ډله، د دوستم د جنبش ګوند) تر منځ د یو دریځ پر سر خبرې رواني وې.
له څو ورځو خبرو وروسته پر سبا به پرېکړه لیک اعلانیدی او جهتونو به هوکړه لیک لاسلیک کاوی، چې د اسلامي حزب استازي قطب الدین هلال ته د ښاغلي حکمتیار له لوري پېغام ورسید چې له طالبانو سره هوکړه لیک لاسلیک نه شي او نه هم د مذاکراتو وروستی پړاو رسمي اعلان شي.
وروسته خبره معلومه شوه چې د ایران په هڅو همایون جریر توانیدلی وو چې د ښاغلی حکمتیار ذهنیت د احمدشاه مسعود سره جوړې او یوځای کیدو ته وګرځوي، همهغه وو چې د ماهیپر ترون وشو، ښاغلي حکمتیار د لومړي وزیر په توګه کابل ته راننوت، نږدې یوه نیمه میاشت وروسته کابل طالبانو ونیوی. په ختیځ او شمال کې د اسلامي حزب ځیني قومندانان او ډیر وسلوال له طالبانو سره یوځای او د طالبانو په لیکو کې د شمال ایتلاف سره په جګړه بوخت وو.
د امریکا له خوا چې پر افغانستان برید وشو، د طالبانو نظام له ګواښ سره مخ شو، ښاغلي حکمتیار ډیر ناوخته د طالبانو ملاتړ اعلان کړ، د طالبانو د هغه وخت د باختر اژانس مشر ملاعبدالحنان همت وایي چې له ښاغلي حکمتیار سره یې رابطه وه، او حکمتیار ډاډ ورکړ چې د طالبانو د هغوی د دریځ ملاتړ به کوي.
د امریکا / ناټو پوځونو په مقابل کې طالبانو او د اسلامي حزب د مخالفت خوځښتونه پیل شوه، طالبانو په بېلابېلو سیمو او د اسلامي حزب ځینو ډلو په کنړ او خوست ولایتونو کې له ناټو پوځیانو او افغان حکومت پلوه وسلوالو سره جګړې کولې، په غزني او میدان وردګو ولایتونو کې هم د اسلامي حزب کسان په ځینو ځایونو کې سره راټول او منسجم کیدل چې طالبانو یې مخه ونیوله او له هغوی څخه یې غوښتل چې د طالبانو په لیکو کې له ناټو او افغان حکومت سره جګړه وکړي.
میدان وردګ ولایت کې د طالبانو او اسلامي حزب د وسلوالو ترمنځ نښتې وشوې یو بل ته یې مرګ ژوبله واړوله.
د هیواد په شمال کې چې له پخوا څخه اسلامي حزب جنګیالي درلودل، په بغلان ولایت کې بیا هم د طالبانو او اسلامي حزب د وسلوالو ترمنځ خونړۍ نښتې وشوې.
ولې په ډیرو ولایتونو او سیمو کې د اسلامي حزب پوري اړوند کسان د طالبانو په لیکو کې په تیرو ۱۵ کلونو کې وجنګیدل او لاهم جنګیږي.

## طالب، اسلامي حزب او حکومت

په تیرو ۱۵ کلونو کې په بېلابېلو وختونو کې د طالبانو او اسلامي حزب د نږدېوالي هڅې وشوې، د اسلامي حزب د سیاسي کمسیون مشر غیرت بهیر چې د باګرام زندان څخه راخوشی شو، هغه هم تر ډیره د یادو ډلو د نزدیکتهڅه وکړه، ولې نتیجه یې څکه ورنه کړه، چې د اسلامي حزب مشر له طالبانو سره د ایتلاف په ډول یوځای کیدل غوښتل، دهغه نظر داوو چې طالبان او اسلامي حزب په خپلو نومونو همداسې پاتې او په ګډه به د ناټو او افغان حکومت پر ضد جګړه کوي.
طالبانو پخوانیو تجربو او ایتلافونو ته په کتلو سره غوښتل چې اسلامي حزب ورسره یوځای او ښاغلی حکمتیار پر خپلو پلویانو ږغ وکړي چې د طالبانو په لیکو کې منسجم شي.
داچې د اسلامي حزب لومړۍ ډله د خالد فاروقي په مشري دهغه وخت له ولسمشر کرزي سره د هغه د حکومت په لومړیو وختونو کې وکتل، او دغه هیئت د ښاغلي حکمتیار صاحب په اجازه کابل ته راغلی وو، عبدالهادي ارغندیوال هم د هیئت غړی وو، د هیئت د راتګ نتیجه داشوه چې په کابل کې یې اسلامي حزب ثبت او دلته یې عملا فعالیت پیل کړ، لږ وروسته بیا د خپلمنځي اختلافونو له کبله خالد فاروقي بېل او ارغندیوال د حزب په میراث کیناست.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وحیدالله سباوون هم څه وکړه چې د اسلامي حزب نوم خپل ځانته ولري، ولي دهغه سره د ارغندیوال په نسبت د حزب کسان لږ وو، هغه اوس مهال د حزب متحد اسلامي په نوم ګوند لري.
د اسلامي حزب نور هیئتونه هم په بېلابېلو وختونو کې کابل ته راغلل او له کرزي سره یې لیدنې کتنې درلودلې، ولي کومه ځانګړې لاسته راوړنه یې نه درلودله.
قطب الدین هلال له کرزي سره د ملګرتیا تارونه نښلولي وو، هغه هم په کابل کې د ارغندیوالو او نورو حزب اسلامي پورې تړلو ډلو څخه بېل فعالیت شروع کړ، تر دې چې په ۲۰۱۴ ز. کال کې ولسمشریزو ټاکنوته ودرید او ښاغلي حکمتیار یې ملاتړ اعلان کړ.
د اسلامي حزب شوراګانو په نوم بله ډله بیا هغه وه چې له ارغندیوال ډلې څخه  له دې امله خفه چې ولي د ډاکتر عبدالله سره ملګري شوه، دوی ورڅخه جلا او د ښاغلي اشرف غني ملاتړ یې وکړ.
د طالبانو او اسلامي حزب تر منځ واټن هغه وخت اورډ شو چې کله د غزنې ولایت د اندړو ولسوالي کې د اسلامي حزب کسانو د طالبانو مقابل کې پاڅون وکړ، ښاغلي حکمتیار له پاڅون کونکو څخه ملاتړ اعلان کړ. او پایله داچې د اسلامي حزب د قومندانانو فیضان او شلګري په مشري دغه پاڅون په اربکیانو تمام او تر دې مهاله په غزني کې د اندړو د قوم تر منځ نږدې ۶۰۰ تنه دواړو لورو (طالب او اربکی) ته وژل شوي.
کله چې د طالبانو د مشر ملامحمد عمر د مرګ خبر خپور شو، د طالبانو د ویش خبرونه  ګرم وو ، اسلامي حزب د طالبانو د رسنیو په مټ بېلو شو ډلو څخه وغوښتل چې له دوی سره یوځای شي.
ستونزه هغه وخت نوره هم جدي شوه چې د ننګرهار په اچین ولسوالي کې د اسلامي حزب ځینو پخوانیو کسانو د داعش بیرغونه پورته کړل،  ښاغلي حکمتیار یې ملاتړ اعلان کړ، ولي وروسته یې هغه اعلامیه او لیکنه چې په شهادت سایټ کې د لنډ وخت له پاره خپره شوه، لیري کړه او داخبر یې ناسم وګانه.
کرزي په خپل ټول وخت کې ونه غوښتل چې ښاغلي حکمتیار  د اسلامي حزب  دمشر په توګه کابل ته راشي، بلکې د اسلامي حزب دویش او ټوټه کیدو  هڅه یې ځکه کوله تر څو د پښتون قوم  مشرتوب د ده په میراث پاتې شي.
د حکمتیار او غني مذاکرات

کله چې ګډ حکومت رامنځته شو، ښاغلي غني هڅه کوله چې ښاغلي حکمتیار پرته له کوم زیات امتیاز څخه کابل ته راشي. د همدې حکومت په لومړیو وختونو کې هم د ښاغلي حکمتیار د راتګ خبرې ډېرې ګرمې شوې، د حکمتیار صاحب د زامنو په شمول د اسلامي حزب د اطلاعاتو (استخباراتو) مشر عبدالمالک او ځینې نور د اسلامي حزب مشران کابل ته راغلل، له چارواکو سره یې لیدنې وشوې.
د  غیرت بهیر هڅه داوه چې حکمتیار صاحب کابل ته رانه شي، مګر همایون جریر بیا حکمتیار صاحب ته د راتګ زمینه برابروله. جریر صاحب په ځینو ناستو کې د اسلامي حزب رسمي استازیتوب کاوو، او دا دول د ولسمشر غني سلاکار هم وو او دی.
ولسمشر غني یو ځل په یوه مجلس کې په خورا وضاحت سره ویلي وو چې د ده له پاره سوله له طالب سره ده، او طالب یو قوت دی چې باید له هغوی سره سوله وشي، د اسلامي حزب اړوند یې په هغه لومړیو وختونو کې هم د سولې کومه تګلاره او لیوالتیا نه وه ښکاره کړې.

کله چې څلور اړخیزې ناستې له ناکامی سره مخ شوې، طالبانو پکې د نه ګډون اړوند رسمي اعلامیه خپره کړه، همهغه مهال پاکستان له ستونزې سره مخ شو، او افغان حکومت هم له نیوکو سره مخ وو.
په اسلام آباد کې د افغانستان سفیر زاخیلوال چې مخینه یې د اسلامي حزب غړیتوب دی، هغه د اسلامي حزب مشر ښاغلي حکمتیار ته د ښاغلي غني لخوا پیغام واستاوی چې له ګډ حکومت سره خبرو ته کښینې.
ځینې ناتاید شوي راپورونه داهم دي چې ممکن د پاکستان فشار به هم وو، چې د حکمتیار صاحب او حکومت تر منځ د خبرو په شروع خپله ناکامي پټه کړي.
د اسلامي حزب لومړي هیئت چې درې تنه وو کابل ته راورسیدل، د هغوی له پاره څه ډول چې لازم و، هغه ډول ښه راغلاست ورته ونه ویل شو، تر دې چې د ملي امنیت شورا له مشر حنیف اتمر سره تر کتلو وروسته هغوی ته وویل شول چې خبره له سولې شورا سره مخکې یوسي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

حنیف اتمر  فکر کوي چې ځان اسلامي حزب ته خواخوږی وښيي او د حزب اعتماد تر لاسه کړي، کومه طرحه چې د اسلامي حزب کسانو راوړي وه هغه د حنیف  اتمر لخوا سولې شورا ته واستول شوه، حنیف اتمر ځان ګوښه کړ، هغه به غواړي په راتلونکې کې د اسلامي حزب ملاتړ ولري، او له ځانه يې خفه نه کړي .
یوځل چې کرزي سره د ښاغلي حکمتيار د خبرو او مذاکراتو اړوند خبرې وشوي، نو حکمتيار صاحب د خپل لوري څخه قاضي حکیم او پوهاند اسماعيل یون معرفي کړي وو، د پوهان یون اړوند يې دا هم ویلي و که د دولت یا اسلامي حزب له خوا استازی وټاکل شي، ورته د منلو وړده، داډول يې ويلي و چې دحکومت له لوري که انجنير ابراهیم او قیوم کرزی استازي وي، دا به ښه وي.
کابل کې د اسلامي حزب ځيني مشران غړي په دي نظر دي چې د ښاغلي حکمتيار راتګ په ګټه نه دی، ښه داده چې هغه هلته پاتې شي او رانه شي، همدلته چې ارغندیوال، هلال، سباون او نور دی همدا کسان دي په حکومت کې خپله ونډه درنه کړي.
د کرزي صاحب په وخت کې وړاندیز شوی و چې د حکمتيار صاحب زامن دي کابل ته راشي، د هیواد دننه حزب اسلامي چوکاټ کې دي فعالیت وکړي، دا چې د استاد رباني زوی وزیر کیږي د حکمتيار زوی ته هم باید حق ورکول شي، او دا ډول حکمتيار صاحب دي سعودي عربستان او یا هم جرمني ته ولاړ شي، له تورلسټ څخه به دده او د اسلامي حزب د غړو نومونه لیري شي، ولي حکمتيار صاحب ونه منله.
حکمتيار صاحب په کابل کې څلور ځایه د خپلو کسانو له پاره ځمکه غواړي، چې هلته به شهرکونه جوړوي او بیا به هلته خپل کسان چې مهاجر دي او ځيني دلته  دي هغه به پکې ځای په ځای کوی، حکومت ویره لري چې دا پروګرام خطرناک دی، یو خو داچې د کورونو په ورکولو به يې همدا د کابل اسلامي حزب په نوم ډلې کمزوري شي، او بل به هلته مدرسي او نور فعالیتونه وي، د تکنوکراتانو په اصطلاح بیا به په همدي کمپونو کې ترهګر روزل کیږي، حزب غوښتل چې یو نفر معرفي کړي او هغه به مشاور ارشد وي، صلاحیتونه به ورکول کیږي.
د اسلامي حزب دویم هیئت د قاضي حکیم په مشري راغی، غیرت بهیر هم ورسره و، حکومت تمه درلودله چې د دوی راتګ به پر طالبانو فشار راوړي، ولي داسي کوم څه تر سترګو نه شول، ناتاید شوې راپورونه ورکول شوه چې د طالبانو د قطر دفتر غړو په اسلام اباد کې د افغان حکومت له کوم چارواکي سره ولیدل، ولي که داخبره رښتیا وای نو بیا به غني کله هم ۶ طالبان په دار نه وای ځړولي.
ویل کیږي چې د طالبانو دوه تنه اسلام اباد ته د یو مهم مجلس له پاره راغلي وو، اوس مهال د مجلس جزئیات د دي وړ نه دي چې روښانه شي، ولي دا خبره شته چې د ملا برادر اخوند د خلاصون له پاره د یوې معاملي احتمال موجود و.
ولسمشر غني چې ملي شورا ته وینا کوله په هغه کې يې پر جګړه اصرار وکړ، او د اسلامي حزب د سولې اړوند خبرو ته يې په خپله ټوله وینا کې اشاره هم ونه کړه، بلکې د طالبانو نوم يې واخیست که ځيني يې سولي ته اماده شي.
بیا چې د ثور پر اتمه نیټه په ارګ کې غونډه وه، بیا هم ولسمشر غني د اسلامي حزب سره د سولې مذاکراتو څخه هیڅ ډول حتی اشارتا ً هم یادونه ونه کړه .
ډیر وروسته چې کله د اسلامي حزب استازو په ارګ کې د اشرف غني میلمستیا کې ګډون وکړ، هغه ورته وویل چې دا ستاسي کور دی، دلته تاسي هر وخت تلای او راتلای شئ، موږ ستاسي قدر کوو، د ښاغلي حکمتيار صاحب يې ډیر توصیف وکړ، او د اسلامي حزب غړو د غني له خولي د حکمتيار صاحب په توصیف کې الفاظ هم په خواله رسنیو کې ولیکل (دانو د اسلامي حزب د غړو کمزوري وه چې دغني په خوله يې موږ ته حکمتيار صاحب معرفي کاوو.(
په راغلي هیئت کې هم د بهیر او جریر مسابقه روانه وه، جریر هڅه کوله چې حکمتيار صاحب پرته له امتیازه کابل ته را داخل شي، او هلال صاحب خو د اسلامي حزب خلکو ته وویل چې ممکن ډیر ژر به حکمتيار د هیواد په کومه سیمه کې په ناڅاپي ډول راڅرګند شي. ویل کیږي چې د بهیر او جریر تر منځ له ډیره وخته د نظر اختلاف شته، نو ځکه ممکن بهیر به د حکمتيار په دا ډول راتګ خوښ نه و.
وسلې کیږدئ او اساسي قانون ومنئ
د ولسمشر غني سره چې کله د حکمتيار صاحب نوم له تور لسټ څخه لیري کیدو خبره د حزب استازو وکړه، هغه په څرګند ډول وویل چې دا مسئله باید له امریکا سره تاسي مطرح کړئ، همدا ډول د اسلامي حزب د بندیانو د خلاصون اړوند هم امریکا باید په جریان کې وي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

تر دي چې ولسمشر غني د اسلامي حزب استازو ته وويل چې ستاسي راتګ هم د امريکا په اجازه کابل ته شوی، که امريکا اجازه نه وای کړې ، ممکن تاسي ته د راتګ اجازه حکومت نه وای درکړې.
تر دي مهاله د اسلامي حزب شهادت بريښناپاڼې د سولې او روغې اړوند ليکني او نظرونه خپرول، د اسلامي حزب غړو ويل چې د بهرنيانو اشغال ۹۵ سلنه پای ته رسيدلې او ۵ سلنه پاتې دی، يو ډول يې د حکمتيار راتګ ته ناسم دلايل جوړول. او د طالبانو اړوند هم په ليکنو کې منفي زياتوالی راغی.
نږدې ۳۰ کاله مخکې حکمتيار صاحب د هغه وخت د امريکا د ولسمشر رونالډ ريګن سره د ليدو وړانديز رد کړ. ولې اوس چې کله د اسلامي حزب استازو د امريکا له سفير څخه د ليدني غوښتنه وکړه، د هغې خوا جواب دا و چې سفير ډير مصروف دی، وخت نه لري، تاسي کولای شئ چې مرستيال سفير(لومړی سکرتر او يا ممکن کونسل) سره وګورئ، د امريکا سفارت هم په نه ليوالتيا سره جواب ورکړ.
د امريکا پيغام د اسلامي حزب مشر ته دا و چې تر هرڅه لومړی يې بايد وسلوال وسلې پر ځمکه کيږدي (تسليم شي)، د اساسي قانون د منلو اړوند رسمي اعلاميه خپره کړي، کله چې دا دوه کارونه اسلامي حزب وکړي بيا به امريکا د تورلست څخه د حکمتيار صاحب د نوم ليري کولو او اړوند مسايلو باندې بحث کوي.
ولې حکمتيار کمزوری اړخ خوښوي؟
ايران، هند، روسيې هم تشويش درلود، د روسيې سفارت تر دي چې هغه د داعش څخه د حکمتيار د ملاتړ اعلاميه او يا ليکنه يې له ځينو افغان سياستوالو سره شريکه کړه، چې که حکمتيار کابل ته راځي، نو د داعش سره به مرسته وکړي، دا ډول ايران ويره درلودله چې د حکمتيار په راتګ به سعودي لاسوهني ته زمينه لا زياته برابره شي، او په کابل او نورو سيمو کې به د حکمتيار په راتګ د شيعيزم د تکثير مخه ونيول شي، او هند فکر کوي چې حکمتيار صاحب اوسمهال په پاکستان کې شتون لري، د پاکستان سره نږدې اړيکې لري، راتګ به يې د هند په ضرر وي.
نړيوال او ځانګړي ډول اروپايي هيوادونه بيا ويره نه لري چې حکمتيار کابل ته راشي، هغوی غواړي چې د اسلامي حزب غړي په حکومت کې غوښنه ونډه ولري، او ممکن امريکا هم په دي نظر وي چې د دوی په اصطلاح منځلاري حزبيان په حکومت کې کا ر وکړي او حکمتيار صاحب سعودي عربستان او يا کوم بل هيواد کې ميشت کيدو ته وهڅوي.
په داسي وخت کې د حکمتيار صاحب د راتګ خبري کيږي چې طالبان بيا مخ په قوت او حکومت مخ په کمزوري دی، عام خلک په مجلسونو کې وايي چې حکمتيار صاحب د هغه چا ملګري کوي چې مخ په ورکيدو وي، د مسعود ملګرتيا يې هغه وخت وکړه چې طالبان د کابل په دروازو کې وو، د طالبانو ملګرتيا يې هغه وخت اعلان کړه چې د هغوی نظام مخ په چپه کيدو و، او دا دی د ګډ حکومت سره د ګډيدو له پاره يې زړه هغه وخت ښه کړ چې حکومت په ډير کمزوري حالت کي دی.
د حکمتيار له راتګ سره نه خو په کابل کې د ارغنديوال ډله، نه هم د سباوون ډله او نه هم شمال ټلواله راضي ده، استاد سياف هم په وروسته وخت کې ګيله درلودله چې لاهم د اسلامي حزب لخوا د ده اړوند ناسمې څرګندونی د هغوی په بريښناپاڼه کي کيږي.
عطامحمد نور هغه وخت ټکان وخوړ چې د حکمتيار د راتګ له آوازو سره همهاله په مزار شريف کې د جمعه خان همدرد او دوستم پلويانو د عطاء نور په ضد لاريون وکړ.
اوس چې د اسلامي حزب سره د ګډ حکومت خبرې ناکامه شوې، هڅه روانه ده چې د عطاء نور او جمعه خان همدرد جوړه وشي، او د اسلامي حزب کسان همدلته په حکومت کې په ګډه کار وکړي، او د حکمتيار راتګ ته نوره اړتيا پاتې نه شي، ځکه اوس هم د شمال ټلواله او د اسلامي حزب مخالف جهتونه دليل راوړی چې نږدې ۸۰ سلنه د اسلامي حزب کسان په ګډ حکومت کې غوښتنه ونډه لري.
اسلامي حزب ډير زيات انعطاف وښود، حتي تر دي چې د امنيتي تړون اړوند او په هيواد کې د بهرنيو اډو په اړه يې د مذاکراتو په جريان کې محتاطانه څرګندوني کولي.
غني له حکمتيار سره هغه چل وکړ لکه چې د خپلو کمپاين کوونکو سره يې وکړ، کله چې ارګ ته ورسيد هغوی يې نږدې ټول رخصت کړه، د حکمتيار اړوند يې خبره دومره ګرمه کړه چې راتګ يې خلکو ته په يقين شو، اوس يې ورته شا کړه. او خبرې ناکامه، د اسلامي حزب استازي به يواځي له خيالونو او تمو سره بيرته اسلام آباد ته ستانه شي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ